استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

زلند یوسفزی

سه شنبه ۲٤ سپتمبر ۲۰۲٤

استونکی: انارگل خوستی

# ماتم

بیا په زړه کی می جوړ شوی څه ماتم دی
ستا تصویر دی تنهایی ده او تورتم دی
که ګلاب دی که نرګس دی او یا بل څه
ستا د حسن صفت د پاره کم دی
ته خو نه راځی خو بیاهم لاری سارم
انتظار دی یاره ما ته محترم دی
پدی خپلی بربادی می پروا نشته
بس خو ستا د زندګی راسره غم دی
ته څه وی چی ستا نه بغیر مړمه بیخی
ته خبر نه یی چی ما کی څومره زغم دی
زلند تول پرهر پرهر دی خو جانانه
ته طبیب یی ستا دیدن ورله مرهم دی



salamwatanam@gmail.com